# د سید جعفر حسین شاه رښتوني ادبي ښخښنې

## (۱۸۹۶-۱۹۷۱)

# Literary Contribution of Syed Jaffar Hussain Shah Rekhtuny (1896-1971)

**Khurshid Allam**★
**Dr.Noor Muhammad (Danish Bettani)** ★★

**Abstract:**

Pashto literature has been evolved gradually in the 20th century and some renowned figures contributed in poetry and prose in classical and modern ways. Syed Jaffar Hussain Shah Rekhuny like Amir Hamza Khan Shinwari is also regarded as a bridge between the classism and Modernism. Moreover, he is the contemporary writer of the time of Maulana Abdul Qadir, Syed Rasul Rasa, Dost Muhammad Khan Kamil Momand, Hamish Khalil, Ayub Sabir and had a close attachment with Maulana Abdul Qadir and Syed Rasul Rasa, the then Directors of Pashto Academy.

Syed Jaffar Hussain Shah Rekhtuny's era was of classical and modern periods. His writings depict the diction of classical and modern based on Bangash's dialect. Most of his work is based on history and translation. His prominent work is the poetic translation of the Holy Quran. However, his travelogues and reportages of Hajj, Karbala and Iran are worth mentioning. Syed Jaffar Hussain Shah Rekhtuny is the sole writer of 20th century compiling almost thirty books. His ideologies of life, existence and material world need elaborative study to be explored.

In this research paper, a literary work of Syed Jaffar Hussain Shah Rekhtuny's has been brought into light.

**Key words:** *Dialect, Diction, Grammar, translation, Travelogue, Reportage, History, Poetry and Prose.*

د پښتو ادب دوه دورونه داسې دي چې د هند وېش نه وړاندې او وروسته دورنو کښې وېش شوي دي۔ د دې دورونو فکري، تصوراتي، کلتوري، اقتصادي او ټولنیزو اړخونو کښې توپیر او په موضوعاتو کښې مختلف رجحانات په نظر راځي۔ د وېش نه وړاندې لیکونو کښې د انګریز خلاف مبارزه شامله ده او د وېش نه پس په موضوعاتو کښې د

★ Ph.D Scholar Pashto Academy UOP
★★ Assistant Professor Pashto Academy UOP

پښتنو شخړو حل لارو تعین کړے شوے دے. البته په کلتوري او مذهبي موضوعاتو کښې څه بدلون نه ښکاري مګر په سياسي او اقتصادي اړخونو د پښتنو ليکوالانو نظرونو کښې بدلون په نظر راځي۔

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني پېژندګلو:

سيد جعفر حسېن شاه رښتونے په ۲۰ مارچ کال ۱۸۹۶ء کښې په کوزاسترزو ضلع کوهاټ کښې د سيد ميرجعفر شاه کره پيدا شوے دے۔ د ژوند اکثره برخه ئې په مختلفو سکولونو کښې د ډرائينګ ماسټر په توګه دنده ترسره کړې ده۔ د هغه ژوند د يو حرکت او جهد مسلسل نوم وۀ او ټول ژوند ئې ادبي هلې ځلې کړي دي۔ رښتوني پښتو ادب ته ډېرش کتابونه اوبخښلو او د يو متحرک ژوند تېرېدو نه پس په ۸ مئ کال ۱۹۷۱ء کښې د پنځو اوياو کالونو په عمر کښې د نړۍ نه رخصت شو او په خپل پلارينه کلي کوز استرزو کوهاټ کښې خاورو ته اوسپارلے شو۔

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني ادبي پېرزوينې:

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني دور د وېش نه وړاندې او وروستو په دورونو مشتمل دے۔ د هغه د وېش نه وړاندې ليکونو کښې ديوان جعفر کال ۲۶۔۱۹۱۸ء او نظريات (شپږ برخې) د ۱۹۳۱ء تصنيفات دي او نور واړه ليکونه ئې د هند وېش نه پس شامل دي۔ د هغه د خوښې موضوعات تاريخ ګوئي او ژباړې دي مګر په نورو موضوعاتو هم هغوئي بشپړ ليکونه کړي دي۔

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني ځانګړ ادبي او علمي کار:

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني د ټولو نه لويه کارنامه د قران مجيد منظومه ژباړه ده چې د هغې په حقله رښتونے په يوه قطعه کښې داسې ګويا دے۔

زه ريښتوني که اوس مړ شم هم مړ نه يم
چې مې پريخله په دنيا کښې لوے نشان
څه خبر ئيه ته چې څه دے غا نشان
غا منظومه ترجمه دي د قران[1]

په دې شعرونو کښې املا هم هغه خپله لهجه کارولې ده۔ سيد جعفر حسېن شاه رښتوني د قران مجيد ژباړه په هم قافيه مصرعو کښې کړې ده يعني د هر شعر دواړه

مصرعې د مثنوي په شکل کښې قافيه دارې دي البته په کوم ځاے کښې چې د قافيې موزونيت کښې توپير راغلے دے نو ازاده ژباړه ئې هم کړې ده مګر بيا هم د اهنګ او مفهوم خيال ئې ختٰي الوسع ساتلے دے مګر دا ژباړه محض لفظي ژباړه ده او دې سره کوم تفسير نه شته. په دې ژباړې د مولانا عبدالقادر ډائريکټر پښتو اکيډيمي "يو څو ليکونه" د رښتوني په نوم يو خط دے چې په کال يولسم جون ۱۹۶۹ء پرې درج دے. په دې خط کښې رښتوني ته د هغه په دومره لوے کار تعريفي کرښې ليکلي دي او د کار ستائينه ئې کوي.

"زه ستا د منظومې ترجمې په حقله هيڅ څه تبصره کول ضروري نه ګنم او نه مناسب. دا ستا د قران کريم او مذهب سره د مينې اظهار دے چې په دې شکل کښې ښکاره شو."[۲]

په دې منظومه ژباړه کښې د رښتوني د قران مجيد ژباړې په حقله په دريويشتمې جنورۍ ۱۹۷۰ ء کال کښې د هغه وخت د پښتو اکېډيمۍ يو بل ډائريکټر سيد رسول رسا " د شاه صيب او د شاه صيب د قران پاک د منظومې ترجمې په باره کښې "عنوان لاندې ليک کوي او هغه خپل يو استاذ او عالم دين ګڼي. د هغه د ښو اخلاقو ستائينه کوي او د هغه کار و زيار تعريف کوي او د قران پاک د منظومې ژباړې په حقله وائي چې دا په پښتو کښې يوه نوې اضافه ده او پښتانه به د دې نه استفاده پورته کړي.

" د قران پاک منظومه ترجمه چې شاه صاحب په پښتو کښې اوکړه نو دا بې شکه چې هم د اسلام او د توحيد د تعليماتو او د هم د پښتو ادب او ژبې دپاره يو ډېر اهم او لوے کار سر ته اورسېدو."[۳]

د سيد جعفر حسين شاه رښتوني د قران پاک ژباړې يوه نمونه د سوره کوثر پيش کوو چې د هغه د ژباړې وضاحت اوشي.

"په تحقيق کوثر مه درکړه اے نبي
وکا نمونځ د رب او وکا قرباني
ستا اولاد نه به دنيا واړه شي ډکه
ستا دېخنه به شي ميرات ته فکر مه که"[۴]

د سيد جعفر حسين شاه رښتوني شعري ټولګه ناچاپه لـه بده مرغه بې درکه ده چې د هغې په حقله د متعلقه حلقه احباب نظر يو دے چې دا اثر د يو څو نزدې کسانو د لاسه بې

درکه شوے دے۔ د دې شعري ديوان په حقله د پښتو اکېډيمۍ ډائريکټر ډاکټر نصرالله جان وزير ليکي چې په کال ۱۹۹۳ء کښې سيد محمد خليلي ډائريکټر خانه فرهنگ ايران پېښور په ټينګار امانت وړے وۀ خو خيانت ئې اوکړو او اوس د ديوان هيڅ درک نه لګي۔ بيا هم د هغه د شعرونو نمونې د هغه په اکثرو اثارو کښې په نظر راځي چې د هغه د شاعرۍ اندازه ترينه په اسانه کېدے شي۔

" ۱۹۹۳ء کال کښې سيد محمد خليلي ډائريکټر خانه فرهنګ ايران پېښور په ټينګار امانت وړے وۀ خو خيانت ئې کړو۔"[۵]

د سيد جعفرحسېن شاه رښتوني ملي افتخار:

سيد جعفرحسېن شاه رښتونے په خپلو شعرونو کښې د افغاني قوم خاصيت او ملي غرور نه سرشار ښکاري۔ د هغه د مدينې زيات په موقع داسې شعرونه چې د افغاني قوم خوئي خصلت ته ډېر فوقيت ورکوي، هغه ملي غرور دے کوم چې د انسان په سرشت کښې اغږلے شوے وي۔ د دې شعرونو نه د هغه د شعري فن اندازه هم لګي چې ځان له يو جدا انداز لري۔

"خدا ے قدرت دے په مکه کښې ډير وم تنګ
خو چه راغلم مدينے ته نو خوشحال شوم
تکليفونه د سفر مه واړه هير شو
ملاقي لکه ستورزو کښې له عيال شوم
مدينے خلق له مکے سل برخه ښه دي
خو که سل مدني کښېنوے په تله
سل خو پرېږده که هزار مدني کښېني
برابر به شي له يوه افغاني کله"[۶]

د سيد جعفر حسېن شاره رښتوني پښتو فولکلوري اړخ:

سيد جعفر حسېن شاه رښتونے د پښتو فولک لور مطالعې سره هم اشنا وۀ۔ د دې نه ښکاره کېږي چې د هغه مطالعه وسيع وه۔ د پښتو په روهي سندرو کښې ټپې ته ډېر ارزښت حاصل دے او د پښتو ادب سره اړه لرونکي د ټپې ارزښت نه ښه خبر دي۔ د رښتوني هم پښتو ټپې سره واسطه پاتې شوې ده۔ د چترال سياحت په موقع د لواري غر په حقله اظهار

پښتو ټپو کښې کوي او د "مصرعې" عنوان لاندې ئې ليکي. د دې ټپو لهجه هم د بنګښو لهجه کارولې شوې ده.

"چترال خو ښه دے سبزه زار دے
بد ئې سفر دے چه سړے د برباد کړينه

د لواري ټاپه ويران شي
چې د تا واورے د کورونه ړنګوينه[7]

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني پېشن ګوئي:

سيد جعفر حسېن شاه رښتونے يو دوراندېش ليکوال ښکاري او د لواري غر د ټنل (سرنګ) يا سوري په حقله پېشن ګوئي کوي چې دا به په يو وخت کښې سورے شي مګر اولس ته په دې وخت کښې زيات زحمت ورکوي. د لواري د غر ټنل (سرنګ) په حقله د رښتوني پېشن ګوئي اوس يو حقيقت دے او اولس ته د لواري غر د سترې سفر نه نجات ترلاسه شوے دے. د دې سفر او ليک تاريخ په حقله ناچاپ ډائرۍ کښې ۲۷ جون ۱۹۵۸ ء ليکي.

د لواري غر به سروئے شي
چې دي سروي د مسافرو کړلو زړونه[8]

په دې ټپه کښې د خپل عصر د لواري غر په حقله ليکي چې يو وخت به راشي چې دا غر به سورے شي او اولس ته به د دې تکليف نه راحت ترلاسه شي مګر په دې وخت کښې لواري غر د مسافرو زړونه سوروي کړو.

سيد جعفر حسېن شاه رښتونے بحيثيت يو ګرځندے ليکوال:

سيد جعفر حسېن شاه رښتونے يو ګرځنده ليکوال وۀ مګر د هغه دا خاصه وه چې يواځې به ګرځېدو. د هغه سفرنامو او تاريخ کښې د تيراه، کرمه، بنګش ځونه، چترال، سوات، دير، ايران، کربلا او سعودي عرب سفرونه او تاريخونه شامل دي چې په دې سفرونو ئې خاطر خواه ليکونه کړي دي. د راولپنډۍ او مکې سفر مسافت يادونو سره ئې د مزل تلل او راتلل لس زره دوه سوه اتلس ۱۰۲۱۸ ميله ښودلے دے. د هر سفر په حقله ئې څه شعرونه ليکلي دي چې د هغه وطن او واقعاتو يادونه په کښې شوې ده.

"کويت نه مدينه، ۱۰۴۳ ميله، مديني نه مکه ۳۰۰ ميله، راولپنډۍ نه مشهد، بغداد، کويت، مدينه ۵۷۲۰ ميله، راولپنډۍ نه زاهدان، اصفهان، بصره، کويت، مدينه ۴۱۹۸ ميله او راولپنډۍ نه مکه مدينه تلل راتلل ۱۰۲۱۸ ميله مسافت دے."[۹]

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني تصنيفات:

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني په ياد کتابونو کښې د قران منظومه ژباړه، ديوان رښتونے، د شيعانو لمونځ، نظريات (اوله حصه، دويمه حصه، دريمه حصه، څلورمه حصه، پينځمه حصه، شپږمه حصه)، اسرار خودي، رموز بې خودي، حج، متلونه، بنګښ ځونه، چترال، تيراه (اورکزي اوله برخه)، تيراه (اپريدي دوريمه برخه) کورمه، پښتو بول چال (حصه اول) پښتو بول چال (حصه دوم)، رياست دير، تاريخ انسان، مومن، سړے او سړي توب، د علي عليه السلام د ديوان منظومه ترجمه، رښتونے يعني د رښتوني سوانح حيات، شيطان، انساني چاهت، الهيات او تبرکات شامل دي.

د سيد جعفرحسېن شاه رښتوني د تصنيفاتو موضوعات:

د سيد جعفر حسېن شاه رښتوني تصنيفاتو په موضوعاتو کښې حمد، نعت، د خدائے تصور، وحدت، معرفت، نبوت، خلافت، شريعت،عبادت، فطرت، مذهب، خير وشر، ځان، دنيا، اخلاقيات، تکبر، رښتيا، اتفاق، اسراف، خود داري، توقع، دولت، راستي، عقل و عشق، شاعري، عشق، مينه، ټنګ ټکور، تعريف، غم، درد، خوبونه، حلال حرام، خفګان، مرګ، تخليق عالم، انسان، روح، شيطان، وحي، قيامت، جنت، دوزخ او داسې نور موضوعات شامل دي.

سيد جعفر حسېن شاه رښتونے په مختلفو ژبو عبور:

سيد جعفر حسين شاه رښتوني په دريو ژبو کښې ليک کړے دے او په دريو ژبو ئې عبور لرلو. په عربۍ پوهېدو مګر په وائيلو کښې ورته دقت وۀ. په انګريزۍ ژبې هم پوهيدو مګر طبيعت ئې ورسره نه لګېدو. د هغه ټول ترجېحات پښتو طرف ته وو. د رښتوني معلوم کتابونه دېرش ياد شوي دي. په دې کښې پښتو بول چال (حصه اول و دويم)، تاريخ انسان او مومن په اردو ژبه کښې دي او نور ټول ليکونه د پښتو دي. البته د قران مجيد، ديوان علي، رموزخودي او اسرار بې خودي منظومې ژباړې دي.

د پښتو اکېډېمۍ ډائریکټر ډاکټر نصرالله جان وزیر د سید جعفر حسېن شاه رښتوني کتاب "تیراه" حصه اول (اورکزي) حصه دوم (افریدي) چې یو تاریخي کتاب دے، په دې کتاب دوه پنځوس صفحې بشپړ سریزه لیکلي ده چې د هغه د کار او زیار پوره تفصیل په کښې بیان شوے دے. په دې سریزه کښې ډاکټر نصرالله جان وزیر د هغه د یوې خاصې بنګښو لهجې په حقله لیک کړے دے چې رښتوني د خپلې سیمې لهجې سره ډېره مینه لرله. د رښتوني کارول شوي د خپلې سیمې لفظونه هغه د یو فهرست په شکل کښې د معنو سره راوړي دي چې د پښتنو د نورو سیمو سره لږ ډېر توپیر لري.

د "تیراه" کتاب په دویمه برخه کښې د اپریدو په حقله د هغوئي د ژوند ژواک مشاهده رښتوني د نزدې نه کړې ده او د هغوئي د خوراک او پېشو په حقله خپل تاثرات بیانوي چې د هغې نه دا اندزه لګي چې دهغه وخت د تیره والو ژوند فطرت ته ډېر نزدې وۀ. هغه په یو ځاے کښې د دې څرګندونه څه داسې کوي.

"د اپریدیو عام روزګار مال ساتنه او خپله زمینداره ده. د ګډو بزو رمې به ئې ساتلې وي. د رمو څرولو دپاره به ئې یو اوړکے مخصوص کړے وي. شودو، پئیو، تروو (شمبلو) باندې به ټول کور ګذاره کوي. غوړي به ئې کور نه وي. کله کله به پسونه غوښې دپاره حلال کړي. یو ګډه (مږ) خو به قریباً هر کور ژمي دپاره ساتي چې ژمے شي حلال به ئې کړي. پنځوس شپېتۀ سېره ډال (چربي) به ورنه اوځي. غوښه به ئې تورې کړي. ډېرو ورځو پورې به ئې خوري. غواګانې هم ساتي. غواؤنه ئې هم پوره ګټه ده. البته مېښې نشته. که دې نو ډېرې کمې." [۱۰]

د سید جعفر حسېن شاه رښتوني یو بل اثر "دیوانِ علي" په نوم یادېږي. دا کتاب د سید ادریس الحسن په اهتمام او د پروفېسر غیور حسېن په ترتیب په کال ۲۰۰۴ کښې چاپ شوے دے. دا کتاب د "دیوانِ علي" عربۍ ژبې نه پښتو ته منظومه ترجمه ده. په دې کتاب سریزه سید حسېن انوري د "یو نظر" په نوم لېکلې ده. سید حسېن انوري د سېد جعفر حسېن رښتوني په حواله لیکلي دي چې رښتوني ته الله تبارک و تعالی داسې فضیلت عطا کړے دے چې د ډېرو لږو خلقو په نصیب به وي. دا فضیلت د قران مجید پښتو منظومه ترجمه ده او د رښتوني بل فضیلت د حضرت علي رضي الله عنه منظوم کلام د پښتو په ژبه

منظومه ترجمه ده۔

"دغه خبره کښې شک و شبهه نشته چې د چا مينه کلام پاک سره وي هغه مومن دے
چې د چا وصلت قران مجيد سره وي هغه عارف دے۔"[۱۱]

د ربښتوني ديوانِ علي منظومې ترجمې يوه نمونه لاندې وړاندې کولے شي۔

"ما معلوم کړو څلور قسمه دي سړي
چې څرګنده ښکاره دغو حالونه دي
يو دے غهٔ چې ورله تنګه دے دنيا
اخرت ښه دے ملګرے ورسره
او دے يو چې ورله دا دنيا بهتره
اخرت کښې ئې څه نشته دي له سره
او يو دے چې بهره مند دے له هر دوو
اخرت دنيا يو ځاے کړلو هغو
يو دے هغه چې دے په مېنځ د تباهي
اخرت او په دنيا ئې څه نشته دي"[۱۲]

د سيد جعفر حسېن شاه ربښتوني يو بل اثر د "مومن" په نوم دے۔ دا اثر اردو کښې ليکلے شوے دے۔ د دې کتاب کتابت محمد جان محله جنګي پېښور کړے دے او د دې کتاب انتساب ربښتوني د خپل پلار سيد مير جعفر شاه په نوم کړے دے۔ په دې کتاب کښې ايمانيات او اخلاقيات بيان شوي دي۔ په يو څه مقدار کښې په کښې د عربۍ نه ژباړې هم شوي دي۔ د دې کتاب يوه نمونه لاندې ورکولے شي!

"ایمان کے معنی ہیں کسی بات کو مان لینا مگر قرآنی اصطلاح میں صرف اسکو مومن کہتے ہیں جو کہ خدا کی وحدانیت اور رسول ﷺ کی رسالت کو مانے اور ماننے یعنی ایمان میں زیادتی اور کمی ہو سکتی ہے جس طرح کہ اسلام میں یہاں تک کہ ایمان ختم بھی ہو سکتا ہے کیونکہ ایمان نقابلِ اعتبار چیز نہیں اور ایک حکیم نے ایمان کی یوں تعریف کی ہے کہ کوئی آدمی تم سے ایک بات کہے اور تم نے اسکی بات مان لی اور کہا کہ تم نے سچ کہا اور میں نے مانا مگر ہو سکتا ہے کہ بعد میں اسکے دل میں شکوک آئیں اور اس ایمان میں ضعف آئے اور یہ بھی ہو سکتا ہے کہ بالکل اسکی بات کو اب جھوٹا جانے اور انکار کرے۔ اس لئے ایمان کو بعض علماء نے کمزور صفت مانا ہے۔"[۱۳]

" د ایمان معنٰي د یو څیز منل دي مګر په قراني اصطلاح کښې مومن هغه کس ته وئیلے شي کوم چې د خداے یووالے او د رسول نبوت منونکے وي۔ یعني په ایمان کښې کمے او زیاتے کېدے شي لکه څنګه چې په اسلام کښې تر دې چې ایمان ختم کېدے هم شي۔ دا ځکه چې ایمان یو قابل یقین څیز نه دے۔ یو حکیم د ایمان داسې تعریف کوي چې که چېرې یو کس تاسو نه تپوس اوکړي او هغه خبره تاسو اومنئ او تاسو ورته اووایو چې دا خبره رښتیا ده او ما اومنله مګر کېدے شي چې وروستو د هغه په زړه کښې شک پیدا شي او په ایمان کښې کمزوري راشي او کېدے شي چې اوس هغه خبره دروغ اوګڼي او منکر شي، له دې کبله ځیني عالمانو ایمان یو کمزور صفت ګڼلے دے۔"

د سید جعفر حسېن شاه رښتوني یو بل تصنیف د "الهیات" په نوم دے۔ دا یو منظوم اثر دے او په دې کښې د الله تبارک و تعالي ربوبیت او وحدانیت صفات بیان شوي دي۔ د پریس نوم پرې د پرنټو ګراف پېښور دے او د چاپ کال پرې ۲۰۰۳ درج دے۔ د کتاب اهتمام سید ادریس الحسن کړے دے او ترتیب ئې پروفېسر غیور حسین کړے دے۔ په دې کتاب کښې د خداے معرفت، صفات، وحدانیت، تعریف، تسبیح او د الله اطاعت بیان شوے دے۔

د پښتو اکېډیمۍ پېښور پوهنتون ډائریکټر ډاکټر راج ولي شاه خټک د رښتوني تصنیفاتو نظر انداز کولو په حقله لیکلي دي چې له بده مرغه د رښتوني تصنیفاتو ته ولې هغه ارزښت حاصل نه شو کوم چې ورته په کار وۀ۔ د رښتوني د الهیاتو په حقله ډاکټر راج ولي شاه خټک لیکي!

> "الهیات د سید جعفر حسېن شاه رښتوني د قدر وړ شعري ادبي او علمي پنګه ده۔ په دې کتاب کښې په روماني انداز، په فلسفیانه دلائلو، خپلو فکري تجربو، علمي ادراکاتو د هغه ذات اکبر د وجود په باب له د اقرار شعرونه دي۔ د چا د بې حسابه بې کرانه فضل په سبب چې د هر څیز وجود دے، هر موجود دې په دې فخر کوي چې د هغه موجودیت د ستر کرم یو اظهار دے۔"[۱۴]

د الله تعالي وحدانیت په حقله د رښتوني په "الهیات" کتاب کښې د الله د هر ځاے موجودیت یوه قطعه وړاندې کوي چې د دې نه د هغه په الله تعالي باندې محکم یقین ښکاره کېږي۔ هغه وائي چې الله هر ځاے موجود دے او د کل کائنات خالق دے او ټول کائنات د هغه پیدا اوښت دے۔ هغه انسان ته دعوت ورکوي چې خپل چاپېریال کښې نظر

واچوه او د الله په تخليق کښې غور او فکر اوکړه. په لاندې قطعه کښې د ايت په نوم ليکي!

"که ته وزغلوے فکر اے 'ربنتونيا'
آيتونه د خالق په هر يو ځاے شته
او که عقل په رنړا کښے ئے وګورے
نو به اُوئے په هر ځاے چه شته خداے شته"[۱۵]

د سيد جعفر حسېن شاه ربنتوني يو بل منظوم اثر د "تبرکات" په نوم مشهور دے. دا کتاب هم په ۲۰۰۳ کښې د سيد ادريس الحسن په اهتمام او د پروفېسر غيور حسېن په ترتيب د پرنټو ګراف پرېس، پېښور له خوا چاپ شوے دے. دا هم د يو کم ضخامت کتاب دے. په دې کتاب کښې نعت، منقبت او مرثيې شاملې دي. په دې کتاب کښې د کربلا واقعې په حقله نوحې په زيات مقدار کښې شاملې دي. د نوحو يوه نمونه ئې لاندې ده.

"ښځے نـر واړه پـه تماشـے دي
بنـدیان راغلـې نـن پـه کـوفے دي
قافلـه راغلـه لـه کـربلا نـه
ګـردو وایلـئے سـتړي سـتومانه
پـاس لـه نيزونـه وينـې ځـاکيږي
پـه کجـاوو کښـې نـارے سـورے دي
کلـه داخلـه دا قافلـه شـوه
کـوفے بـازار کښـے يـوه غلغلـه شـوه"[۱۲]

سيد جعفر حسېن شاه ربنتونے په خپلو تصنيفاتو کښې د کربلا واقعې او د هغه د مزارونو سره عقيدت نه دا اندازه لګي چې هغه يو عقيدت مند شخصيت وُ چې مذهبي اقدارو او اوصافو ته ئې درنوے لرلو او په مجلسونو کښې به ئې شرکت کولو. هغه يو متاثر کن شخصيت وُ چې خپل ملازمت دوران کښې به ئې هر ځاے کښې د مجلسونو او محفلونو رنګونو ته ښکلا بخښله. د هغه تصنيفاتو نه ښکاره ده چې هغه په خپله هم د داسې مجلسونو او محفلونو انعقاد يقنيني کړے دے.

د سيد جعفر حسېن شاه ربنتوني تصنيفاتو عمومي جائزه:

سيد جعفر حسېن شاه ربنتونے د يو تاريخ دان او مترجم سره دعلم جيفر او مسميريزم په

حقله هم لیکونه کړي دي او ښائي چې هغه د علم جیفر عالم وۀ او په مسیمیریزم کښې ورته خاصه حاصله وه۔ د سید جعفر حسېن شاه رښتوني په تصنیفاتو کښې د ټولو نه ښکاره تعلیمات د هغه نظریات شپږ برخې او شیطان په حقله لیکونه دي چې د هغه خپل تجربات دي چې هغه د لیکونو په شکل کښې وړاندې کړي دي۔ د هغه نظریات د وجود باري تعالٰي او د انساني وجودیت ترمینځ د مباحثو بیانونه دي چې د مختلف مکاتب فکر دپاره غور طلب دي۔

سید جعفر حسېن شاه رښتوني چې په کوم وخت کښې ژوند کولو، هغه دور د پښتو ادب د کلاسیک او د جدید په دورونو مشتمل وۀ۔ د رښتوني په لیکونو کښې د کلاسیک او د جدید امتزاج ځۀ نمونې په نظر راځي۔ د هغۀ د ژوند لیک نه دا اندازه لګي چې هغه د یو مترقي سوچ څښتن وۀ۔ د هغۀ فکر عالمي وۀ او د پښتو ادب افاقیت په حقله ئې د ژباړو لاره اختیار کړې وه۔ د هغه فن په حقله په مختلفو کتابونو کښې د پښتو ادب لیکوالانو لیکونه کړي دي چې په کښې مولانا عبدالقادر، سید رسول رسا، ډاکټر راج ولي شاه خټک، ډاکټر نصرالله جان وزیر، همېش خلیل، عبدالراوف رفیقي، اسیر منګل او نورو لیکوالانو لیکل کړي دي مګر دا لیکونه ډېر سرسري دي او د رښتوني کار او زیار احاطه نه شي کولے۔ د رښتوني کار د ضحامت په حقله د شلمې پېړۍ د پښتو ادب په لیکوالانو په ړومبي صف کښې شامل دے۔ د رښتوني د فن مختلف اړخونه او پښتو ادب ته بخښنې د هغه قابل قدر کارنامې دي چې د پښتو ادب یوه لویه سرمایه ده۔ د رښتوني د ذکر شویو تصنیفاتو نه دا یو څو لنډ څرکونه وړاندې کړے شول۔ د هغه د تصنیفاتو تفصیلي جاج اخیستل یوه بشپړه مطالعه غواړي۔

## References


١. Rekhtuny, Jaffar Hussain Shah, Syed, Quran Majeed Sara Da Pakhto Manzomy Tarjumy, Hameedia Press
٢. Peshawar, Year Unknown, Page Last Flip
Ibid, Page "B"
٣. Ibid, Page "C"
٤. Ibid, Page 1010
٥. Rekhtuny, Jaffar Hussain Shah, Syed, Teerah (Aurakzi, Afridi), Pashto Academy University Of Peshawar, 2020, Page 15
٦. Rekhtuny, Jaffar Hussain Shah, Syed, Da Rekhtuni Da Jwand Hal, Not Published, Page 130
٧. Ibid, Page 138
٨. Ibid, Page 138
٩. Ibid, Page 136
١٠. Rekhtuny, Jaffar Hussain Shah, Syed, Teerah (Aurakzi, Afridi), Pashto Academy University Of Peshawar, 2020, Page 512
١١. Rekhtuny, Jaffar Hussain Shah, Syed, Deewan-e- Ali (A.S), Publisher Unknown, 2004, Page# 2
١٢. Ibid, Page# 82
١٣. Rekhtuny, Jaffar Hussain Shah, Syed, Momin, Publisher Unknown, 1963, Page 46-47
١٤. Rekhtuny, Jaffar Hussain Shah, Syed, Ilahiyat, Printograph, Peshawar, 2003, Page Unknown
١٥. Ibid, Page 11
١٦. Rekhtuny, Jaffar Hussain Shah, Syed, Tabarukat, Printograph, Peshawar, 2003, Page# 5